# د

# رُوټ

# سيپاره

# مُقدس کلام

د اصلی عبرانیٖ صحیفو نه ترجمه شوې سيپاره

د جماعتُ المومِنين پېښور پاکستان ادارې نه تصديق شوې

١ ربيع الاول ١٤٢٨ھ

# پېژندګلو

## بی بی رُوت

خدائ پاک د ټولو خلقو سره مینه کوی، د هغوی سره هم کومو ته چې خلق په سپک نظر ګوری، اؤ هغه غواړی چې د دوئ طرفدارے وکړی اؤ د دوئ عزت اؤ تعلق د هغۀ سره بیا جوړ کړی. اؤ په دغه خلقو کښې مونږه هم شامل یو کوم چې اوس ژوندی یو. مونږ دا سبق د یوې عاجزې کونډې ښځې نه د کومې نامه چې رُوت وه د هغې د قیصئ نه زده کوو.

رُوت د بل وطن یوه مسافره ښځه وه چا چې د خدائ پاک د منونکو خلقو نه د یو سړی سره وادۀ کړے وو. د هغې لا بچی نۀ وو شوی چې خاوند یې مړ شو، خو هغه د خپلې خواښې نعومی سره پاتې شوه، اؤ هغه هم کونډه وه، اؤ د خپل خاوند د رشته دارو سره د اوسیدلو د پاره تلې وه. د یوې بې اولاده کونډې اؤ مسافرې په حیثیت رُوت هیڅ حق نۀ لرلو چې د هغوی په مېنځ کښې څۀ عزت ولرې. هغه به د غلې پټو ته کار کولو د پاره تله چې د خپل ځان اؤ خواښې د پاره روزی وګټی، هغې ته پته

ولړیده چې هغه د یو عزتمند سړی بوعز په پټو کښې ده څوک چې د هغې لرې رشته دار هم وو.

بوعز ته پته ولړیده چې نعومی اؤ رُوت دواړه دَ اوسیدلو د پاره د نعومی دَ قوم خلقو ته واپس راغلې دی، اؤ کله چې هغهٔ وکتل چې رُوت د هغهٔ په پټو کښې کار کوی، نو په هغې باندی یې زړهٔ وسوزیدو اؤ خپلو نوکرانو ته یې خبردارے ورکړو چې هغې ته د رحم په سترګه ګوری. اؤ وروستو بیا هغهٔ د هغې سره وادهٔ هم وکړو، اؤ هغې ته یې د خپلو خلقو په مېنځ کښې یو ځائ اؤ وراثت ورکړو. بالکل هم هغسې څنګه چې بوعز رُوت د بې عزتیِ نه بچ کړه، خدائ پاک مونږ سره هم مینه کوی اؤ غواړی چې مونږ له عزت راکړی اؤ مونږ د هغهٔ سره تعلق ولرو، کهٔ چرې مونږ د هغهٔ خوا ته نزدې شُو.

# اوله رکوع

## د اليمَلِک د کورنۍ موآب ته تلل

[1-2] ډېر وخت وشو، د هغې نه مخکښې چې کله بادشاهانو په اِسرائيليانو حکُومت کولو نو په هغه وطن کښې قحط راغلو. يو سړے اليمَلِک، چې افراتے وو، هغه د يهوداه په بيت لحم کښې اوسيدو، د خپلې ښځې نعومى اؤ د دؤو زامنو محلون اؤ کِليون سره موآب ته د څۀ وخت د پاره لاړو. دوئ لا هلته اوسېدل، [3] چې اليمَلِک مړ شو، نو نعومى د دؤو زامنو سره يواځې پاتې شوه. [4] نو هغوى د موآبۍ ښځو عرفه اؤ رُوت سره ودُونه وکړل. تقريباً لس کاله وروستو [5] محلون اؤ کِليون هم مړۀ شول، اؤ نعومى بېخى يواځې پاتې شوه، چې نۀ يې خاوند وو اؤ نۀ زامن.

## د نعومى اؤ رُوت بيت لحم ته واپس راتلل

[6] څۀ وخت وروستو نعومى خبر شوه چې مالِک خدائ خپلو خلقو ته د فصلُونو نِعمت ورکړو؛ هغه د

اِنړوریانو سره د موآب نه تللو ته تیاره شوه. ۷ دوئ یو
ځائ یهوداه ته واپس رواني شوې، خو په لاره کښې
۸ نعومی هغوی ته ووئیل "تاسو کور ته واپس لاړې
شئ اؤ د خپلو میاندو سره اوسېږئ. مالِک خدائ
مو مل شه لکه څنګه چې تاسو زما اؤ زما د مړو
زامنو سره غېرت وکړو. ۹ اؤ مالِک خدائ دې
وکړی چې تاسو دواړه بیا واده شئ اؤ خپل
کورُونه آباد کړئ."
نو نعومی هغوی رُخصتولو د پاره ښکُلې کړې. خو
هغوی په ژړا شوې ۱۰ اؤ هغوی هغې ته ووئیل "نه،
مُونږ به تا سره ستا وطن ته ځُو."
۱۱ نعومی په جواب کښې ورته ووئیل "زما لُوڼو!
تاسو واپس لاړې شئ، تاسو ما سره ولې تلل غواړئ؟
په دې خیال چې زما به بیا زامن وشی اؤ هغوی به تاسو
واده کړی؟ ۱۲ واپس خپلو کورنو ته لاړې شئ، زۀ ډېره
بوډۍ یم اؤ د بیا واده کېدو نۀ یم. کۀ چرې زۀ داسې
وګڼم چې تر اوسه څۀ اُمید شته، نو زۀ کۀ نن شپه واده
هم شوم اؤ زما زامن وشول، ۱۳ تاسو به د هغوی د
غټېدو اِنتظار کوئ څۀ؟ دا به تاسو د بل چا سره د

ودېدو نه ایساروی څۀ؟ نه، زما لُوڼو! تاسو ته پته ده
چې دا نۀ شی کېدے. مالِک خُدائ زما مل نۀ دے، په
تاسو زما زړۀ سوزی.“
[14] دوی بیا په ژړا شوې. عرفه په مخه ښه وئیلو د
پاره خواښې ښُکله کړه اؤ واپس کورته لاړه، خو رُوت
د هغې لمن کلکه نیولې وه. [15] نو نعومی هغې ته
ووئیل ”اے رُوت، ستا یور خپلو خلقو اؤ د هغوی
خُدایانو له لاړه. هغی پسې واپس کور ته لاړه شه.“
[16] خو رُوت ورته ووئیل ”ما د ځان نه مۀ شړه، ما ته
مۀ وایه چې زۀ درنه ایساره شم، چې چرته ځې، هلته به
ځم؛ چې چرته اوسې، هلته به اوسم. ستا خلق به زما
خلق وی، اؤ ستاسو خدائ پاک به زماخدائ پاک وی.
[17] چې چرته مرې، هلته به مرم، چې چرته ښخېږې هلته
به ښخېږم. مالِک خدائ دې ما ته په قهر شی کۀ د
مرګ نه بغېر په بل څۀ ستا نه جُدا کېږم.“
[18] کله چې نعومی ته پته ولږېده چې رُوت د تلو
کلکه اِراده کړې ده، نو هغې نور څۀ ورته ونۀ وئیل.

[19] دوئ مـزل کولـو چـې بیـت لحـم تـه ورسـیدې. د
هغـوی په رسـېدو د ټـول ښـار خلق د هغـوی پـه ننداره
شول، اؤ ښځو ووئیل "دا په رېښتیا نعومی ده؟"
[20] هغې ووئیل "ما ته نعومی مۀ وایـئ؛ ما تـه ماره
وایئ، ځکه چې قادِر خدائ زما ژوند تریخ کړے دے.
[21] زۀ بختـوره لاړم، خو مالِک خدائ تـش لاس سپېره
راولېږلم. ماته ولې نعومی وایئ، چې قادِر خدائ زۀ
غورزولې یم. اؤ هغۀ په سختۍ کښې اچولې یم؟"
[22] نو داسې نعومی د خپلې موآبۍ اِنږور رُوت سره
د موآب نه واپس راغله. د اوربشو لَو شروع وو، چې
دوئ بیت لحم ته ورسېدلې.

# دویمه رکوع

## د رُوت د بوعز په پټی کښې کار کول

[1] د نعومی یو رشته دار وو چې نُوم یې بوعز وو، دا یو مالدار اؤ مشر سړے وو، کوم چې د هغې د خاوند الیمَلک د کورنۍ نه وو. [2] یوه ورځ رُوت نعومی ته ووئیل "ما پرېږده چې پټو ته لاړه شم چې د لَوګرو نه پاتې شوی وږی راټولوم. زما یقین دے چې څوک به مې د ځان سره پرېږدی."

نعومی ورته ووئیل "ځه لُورې، لاړه شه."

[3] رُوت پټو ته لاړه اؤ لَوګرو پسې وروستو پاتې شوی وږی یې راټولول. نو داسې وشول چې هغه د بوعز په پټی کښې وه.

[4] په دې کښې بوعز په خپله د بیت لحم نه راغلو.او لَوګرو ته یې سلام وکړو.اؤ ورته یې ووئیل "مالک خدائ مو مل شه." اؤ هغوی په جواب کښې ووئیل "مالِک خدائ دې بختور کړه."

۵ بوعز د لَوګرو مشر نه تپوس وکړو، ”دا ځوانه
ښځه څوک ده ؟“
۶ مشر جواب ورکړو، ”دا ځوانه ښځه د نعومی سره
د موآب نه راغلې ده. ۷ هغې ما ته ووئیل چې ما په
لَوګرو پسې پاتې شوی وږی راټولو ته پرېږده. هغه د
سحر وختی نه تر اوسه پورې کار کوی او د لږې لحظې
د پاره دالان لاندې دَمې ته کښېناسته.“
۸ بیا بوعز رُوت ته ووئیل ”زما خبره واوره، د دې
پټی نه بغېر بل ځائ کښې وږی مۀ ټولوه، دلته د ښځو
سره یو ځائ اوسه؛ ۹ سړو ته ګوره چې چرته هغوی
رېبی اؤ په هغوی پسې شاته ښځو سره کار کوه. ما
خپلو سړو ته وئیلی دی چې هغوی تا نۀ تنګوی. هر
کله چې تۀ تږې شې، د هغې منګو نه اوبۀ څښه چې
دوئ ډک کړی دی.“
۱۰ رُوت د عِزت نه پړ مخې په زمکه پرېوته، اؤ
بوعز ته یې ووئیل ”زۀ ولې ستاسو په نظر کښې درنه
یم؟ تاسو ولې په ما مُسافرې دومره مِهربانه یئ؟“
۱۱ بوعز ووئیل ”زۀ د هر څۀ نه خبر یم چې تا د
خاوند د مرګ نه پس د خواښې څومره خِدمت کړے

دے. ما ته پته ده چې تا څنګه مور پلار اؤ خپل وطن
پرېښودل اؤ هغه خلقو له راغلې چې تا مخکښې نۀ
پېژندل. ۱۲ مالِک خدائ دې تا له د دې بدل درکړی.
مالِک خدائ دې تا له پُوره اجر درکړی ، کُوم چې د
اِسرائيليانو خدائ پاک دے، چې ورته د پناه د پاره
راغلې يې."
۱۳ رُوت ورته ووئيل "نېکه! تۀ په ما ډېر مِهربانه
يې. د ستاسو نرمو خبرو زۀ په آرام کړې يم، سره د دې
چې زۀ ستاسو د وينځې برابره هم نۀ يم."
۱۴ د خوراک په وخت بوعز رُوت ته ووئيل "ډوډۍ
واخله، اؤ دا سرکې سره وخوره." نو هغه د لَوګرو سره
کښېناسته، اؤ بوعز څۀ وريتې دانې هم هغې له
ورکړې. هغې دومره وخوړه چې پرې ښۀ مړه شوه، اؤ څۀ
خوراک پاتې هم شو. ۱۵-۱۶ کله چې هغه ورږو ټولولو له
ورغله، بوعز لَوګرو ته حُکم وکړو، "پرېږدئ چې هغه
وږی هم راټول کړی چرته چې ګېډۍ پرَتې دی، اؤ هغه
ښېخی مۀ منع کوئ. د دې نه علاوه، څۀ وږی د ګېډو نه
ورله راوباسئ چې هغه يې رواخلی."

[17] نو رُوت تر ماښامه پورې په پټې کښې ورېی راټولول، کله چې هغې دا ټول وټکول، تقريباً اتۀ سېره وُو. [18] نو هغې دا ښار ته يوړل اؤ خواښې ته يې وښودل چې هغې څومره دانې راټولې کړې دی. اؤ د هغې د خوراک نه پاتې شوې وريتې دانې يې هم هغې له ورکړې. [19] نعومی د هغې نه تپوس وکړو، "تا نن دا دومره ورېی چرته نه راټول کړې دی؟ تا د چا په پټې کښې کار کولو؟ هغه سړے دې بختور شی چې ستا خيال يې وساتلو."

نو رُوت نعومی ته ووئيل چې "نن ما د چا په پټو کښې کار کولو د هغه سړی نُوم بوعز دے."

[20] نعومی ووئيل "مالِک خدائ دې بوعز بختور کړی. مالِک خدائ هميشه د مړو اؤ ژوندو سره وعدې پُوره کوی." هغې دا هم ووئيل چې، "هغه سړے زمُونږ نِزدې رشته دار دے، هغه زمُونږ د خيال ساتلو ذِمه وار دے."

[21] بيا رُوت ووئيل "د دې نه ښۀ خبره دا ده، چې هغۀ ما ته ووئيل چې د لوګرو د کار تر ختمولو پورې ورېی راټولوه."

[22] نعومی رُوت ته ووئیل "اۀ لُورې! دا به ډېره ښۀ
وی چې د بوعز په پټو کښې د ښځو سره کار کوې. کۀ
چرې تۀ د بل چا پټو ته لاړې نو څوک به لاس دروا چوی."
[23] نو رُوت د هغوی سره کار کولو اۀ وړی یې راټولول،
تر دې پورې چې ټول غنم اۀ اوربشې وريبلے شوې. اۀ د
خپلې خواښې سره اوسېده.

# دريمه رکوع

## د رُوت د بوعز په درمن کښې کار کول

[۱] څۀ وخت وروستو نعومی رُوت ته ووئيل "زۀ به خامخا ستا د پاره خاوند لټوم، چې ستا خپل کور آباد شی. [۲] دا ياد ساته چې بوعز، د چا د ښځو سره چې تا کار کولو، هغه زمُونږ رشته دار دے. اوس دا خبره واوره، هغه به نن شپه په درمن کښې وربشې بادوی. [۳] نو ولامبه، عطر ولګوه، اؤ د ټولو نه ښې جامې واچوه. اؤ بيا لاندې درمن ته لاړه شه، خو چې هغۀ ته دا پته ونۀ لګی چې تۀ هلته يې تر هغی پورې تر کومې پورې چې هغۀ خوراک څښاک ختم کړے نۀ وی. [٤] تۀ ورته ګوره چې چرته څملی، چې کله هغه اُودۀ شی، نو لاړه شه اؤ د هغۀ نه څادر اُوچت کړه اؤ ورسره اُوده شه. نو هغه به تا ته ووائی چې تۀ به څۀ کوې."

[۵] رُوت ووئيل "زۀ به هم هغه شان وکړم لکه څنګه چې تا ما ته ووئيل."

٦ نو رُوت درمن ته لاړه اؤ چې ځنګه خوابنې ورته
وئيلی وُو هم هغه شان يې وکړل. ٧ کله چې بوعز
خوراک څښاک ختم کړو، نو هغه ښۀ په سُر کښې وو.
هغه د اوربشو ډېری له لاړو اؤ څملاستو. رُوت غلې
غلې ورغله، څادر يې ترې اُوچت کړو اؤ هغۀ سره اُوده
شوه. ٨ هغه د شپې ناڅاپه راويښ شو، په بل مخ
واوړېدو، نو حېران شو چې هغۀ سره يوه ښځه اُوده ده.
٩ هغۀ ترې تپوس وکړو، ”تۀ څوک يې؟“
هغې جواب ورکړو، ”زۀ رُوت يم، ستا د خپو
خاوره، په ما نظر وکړه، ځکه چې زۀ ستا نِزدې
رشته داره يم.“
١٠ هغۀ ووئيل ”مالِک خدائ دې بختوره کړه، تۀ
اوس د هغې نه هم لويه وفاداری ښايې چې تا د خوابنې
د پاره څۀ کړې وُو. تا کولے شول چې مالدار يا غريب
ځوان سړے دې خوښ کړے وے، خو تا داسې ونۀ
کړل. ١١ خو رُوت، اوس خفه کېږه مه. چې تۀ ځنګه
غواړې زۀ به هم هغه شان وکړم؛ لکه چې په ښار کښې
ټولو خلقو ته پته ده، چې تۀ يوه شريفه ښځه يې. ١٢ دا
رښتيا دی چې زۀ ستا نِزدې رشته دار يم اؤ زۀ ستا

خیال ساتم، خو دلته ستا ، زما نه نِزدې بل خپل هم شته. [13] دلته دا پاتې شپه تېره کړه، اؤ سحر به مُونږ وګورُو چې هغه ستا ذِمه واری اخلی یا نه. کۀ اخلی، نو ټیک ده؛ اؤ کۀ نۀ اخلی،نو زۀ بیا په ژوندی مالِک خدایٔ قسم کوم چې زۀ به ستا خیال ساتم. نو اوس دلته تر سحره پورې پاتې شه.“

[14] نو هغه ورسره هلته اوده شوه اؤ د چرګ د بانګ نه مخکښې پاڅېده چې څوک یې ونۀ وینی، ځکه چې بوعز نۀ غوښتل چې چا ته دا پته ولږی چې د هغې شپه هلته وه. [15] بوعز هغې ته ووئیل ”خپل څادر دلته خور کړه“ اؤ هغې خور کړو، اؤ هغۀ هغې له تقریباً شپاړس سېره اوربشې په څادر کښې واچولې اؤ هغه پنډ یې وریه سر کړو. اؤ هغه ښار ته واپس راغله. [16] کله چې هغه کور ته راغله، خواښې ترې نه تپوس وکړو، ”لُورې! معامِله څنګه شوه؟“

نو رُوت هغه هر څۀ ورته ووئیل چې بوعز د هغې د پاره کړی وُو. [17] رُوت دا هم ووئیل چې، ”هغۀ ما ته وئیلی وُو چې تۀ خپلې خواښې له خالی لاسُونه مۀ ځه، نو هغۀ ما له دومره ډېرې اوربشې راکړې.“

۱۸ نعومی ورته ووئیل "زما لُورې اوس صبر کوه چې د دې خبرې څۀ حل راو نۀ وځی نو بوعز به تر هغه پورې په قلاره نۀ کښېنی چې نن دا مسئله حل نۀ کړی."

# ثلورمه رکوع

## د بوعز رُوت سره وادۀ کول

[1] نو بوعز د ښار په دروازه کښې د جرګې ځائ ته
لاړو اؤ هلته کښېناستو. بیا د الیمَلک نزدې رشته
دار، چې بوعز د هغۀ په باره کښې وئیلی وُو، راغلو،
نو بوعز ورته آواز وکړو، "زما ملګریه! دېخوا راشه، اؤ
دلته کښېنه." هغه وراغلو اؤ هلته کښېناستو. [2] بیا
بوعز د ښار لس مشران راغونډ کړل اؤ هغوی ته یې هم
ووئیل چې "کښېنئ" اؤ هغوی کښېناستل.
[3] هغۀ رشته دار ته ووئیل "اوس نعومی د موآب نه
واپس راغلې ده، هغه زمُونږ د رشته دار الیمَلک
پټے خرڅول غواړی، [4] زما خیال دا دے چې تَۀ د
دې په باره کښې خبر شې. نو بیا، کۀ دا اخستل
غواړې، نو د دې ناستو کسانو په مخکښې ووایه،
اؤ کۀ نۀ غواړې، نو هم ووایه، ځکه چې د دې
اخستلو اول حق ستا دے، اؤ بیا زما."
هغه سړی ووئیل "زۀ به دا واخلم."

٥ بوعز ووئیل ”ډېره ښۀ ده، کۀ تۀ د نعومی نه پټے
اخلې نو ورسره رُوت هغه موآبۍ کونډه به هم اخلې، نو
دا پټے به د مړی د کورنۍ په میراث کښې راځی.“
٦ هغۀ جواب ورکړو، ”نو په دې وجه زۀ بیا
داسې نۀ شم کولے. زۀ خپل حق پرېږدم، کۀ تۀ یې
اخستل غواړې نو واخله. ځکه چې د دې مطلب دا
دے چې دا به زما د بچو میراث نۀ وی. نو هم تۀ یې
واخله، زما نۀ دے په کار.“
٧ په هغه ورځو کښې د اخستلو خرڅولو اؤ د
جائیداد بدلولو دا رِواج وو چې خرڅوُونکی به
خپله څپلۍ ویستله اؤ اخستُونکی ته به یې
ورکوله. په اِسرائیلیانو کښې د دې مطلب دا وو
چې خبره پخه شوه.
٨ نو کله چې سړی بوعز ته ووئیل چې، ”تۀ پټے
واخله.“ هغۀ خپله څپلۍ ویستله اؤ بوعز له یې ورکړه.
٩ نو بیا بوعز مشرانو اؤ هلته نورو کسانو ته ووئیل
”تاسو ټول ګواه اوسئ چې ما د نعومی نه ټول څیزُونه
واخستل چې هغه د الیمَلِک اؤ د هغۀ د زامنو کِلیون

اؤ محلـون وُو. [١٠] اؤ ورسـره مـوآبئ رُوت، د محلـون
ښځه، زما ښځه شوه. د دې په وجه به جائيداد د مړی
په کـورنئ کښې پـاتې شی، اؤ دا ميـراث بـه د هغـۀ د
کـورنئ نُـوم د هغـۀ پـه خلقـو اؤ د هغـۀ پـه کلـی کښـې
ژوندے وساتی. تاسو نن د دې خبرې ګواهان يئ.“
[١١] مشـرانو اؤ نـورو کسـانو ووئيـل ”اؤ، مُـونږ
ګواهان يُو. مالِـک خدائ دې ستا ښځه د راحيل اؤ
لِياه په شان کړِی، چې هغوئ د يعقُوب کور آباد کړو.
تـۀ پـه افـرات کښـې مالـدار اؤ پـه بيت لحم کښـې
مشهُور شې. [١٢] اؤ د دې ځوانې ښځې نه چې مالِـک
خدائ کُوم بچـی درکـړی هغـوی دې ستـا کـورنئ د
فِرس د کورنئ په شان جوړه کړی، چې هغه د يهوداه
اؤ تمر زوئ وو.“

## د حضرت داؤد نسب نامه

[١٣] نو بوعز د رُوت سره وادۀ وکړو اؤ کـور تـه يـې
بوتلـه. مالـک خـدائ هغـه بختـوره کـړه، اؤ هغـه
اُميدواره شَوه اؤ يو زوئ يې وشو. [١٤] ښځو نعومی ته
ووئيل ”د مالِک خدائ شُکر دے چې هغۀ تا لـه نـن

نمسے درکړو چې ستا خیال وساتی. دا هلک دې په اِسرائیلیانو کښې مشهُور شی. [15] ستا اِنږور تا سره مینه کوی، هغې ستا د پاره د اوو زامنو نه ډېر ښهٔ کړی دی. اوس د هغې ماشُوم پېدا شوے دے، هغه به تا له یو نوے ژوند درکړی اؤ هغه به ستا په آخری عمر کښې خیال ساتی." [16] نو نعومی ماشُوم واخستو، سینې ته یې جوښت کړو اؤ د هغهٔ خیال یې ساتلو.

[17] د ګاونډ ښځو د ماشُوم نُوم عبید کېښودو. هغوی هر چا ته وئیل، "د نعومی کره ماشُوم شوے دے."

عبید د یشی پلار شو. چې هغه د داؤد پلار وو.

[18-22] دا د فِرس اولاد دے: حصرون زوئ د فِرس وو، رام زوئ د حصرون، عمیناداب زوئ د رام، نحسون زوئ د عمیناداب، سلمُون زوئ د نحسون، بوعز زوئ د سلمُون، عبید زوئ د بوعز، یشی زوئ د عبید ،او داؤد زوئ د یشی وو.